## لوړو زده کړو وزارت

## وردگ پوهنتون

## ښوونې او روزنې پوهنځی

# د ښوونې او روزنې پوهنځی  دروغتیا ساتنې کړنلاره

کال : ۱۴۰۴

بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک

عنوان

مخ


۱. سریزه....4
۲. دروغتیا ساتنې دکړنلارې جوړښت....5
۳. دروغتیا ساتنې دکړنلارې موخه....5
۴. درغتیا ساتنې دکړنلارې د تطبیق ساحه....5
۵. دښوونې او روزنې پوهنځی دروغتیایی کړنلارې د اصطلاحاتو تعریفونه....5
٦. دښوونې او روزنې پوهنځی دروغتیایی کړنلارې شرایط....5
۷. دښوونې او روزنې پوهنځي داستادانو ،محصلانو ،اداری کارمندانو او خدماتی کارمندانو شرایط....6
۱,۷ د استادانو مسؤلیتونه....6
۲,۷ د محصلانو مسؤلیتونه....6
۳,۷ د اداري کارکوونکو مسؤلیتونه....6
۴,۷ د خدماتي کارکوونکو مسؤلیتونه....6
۸. د چاپېریال پاک ساتل....6
۹. بیړني تدابیر....7
۱۰. د روغتیا کمېټه....7
۱۱. سرغړونې....7
۱۲. تعدیل او بیا کتنه....7
۱۳. د تطبیق نېټه....7

## ۱. سریزه

روغتیا د انسان له اساسي حقونو څخه شمېرل کېږي او سالم بدني، رواني او ټولنیز حالت د هر فرد د علمي، مسلکي او اخلاقي ودې لپاره بنسټیز شرط دی. تحصیلي بنسټونه، په ځانګړي ډول پوهنتونونه، نه یوازې د علم د تولید او لېږد مرکزونه دي، بلکې د سالمو ارزښتونو، منظم ژوند او ټولنیز مسؤلیت د ترویج مهم چاپېریال هم ګڼل کېږي. له همدې امله، د خوندي او صحي تحصیلي چاپېریال رامنځته کول د پوهنتونونو له اساسي مکلفیتونو څخه دی.

د روغتیا ساتنې منظم سیستم نشتوالی کولای شي د ساري ناروغیو د خپرېدو، د چاپېریالي ککړتیا، رواني فشارونو او کاري خنډونو سبب شي، چې په پایله کې یې د تدریس، زده کړې او اداري چارو کیفیت اغېزمنېږي. برعکس، منظم روغتیایي تدابیر د ناروغیو مخنیوی کوي، د کارکوونکو او محصلانو حضور منظموي، د تولیدي وړتیا کچه لوړوي او د سالم علمي چاپېریال بنسټ پیاوړی کوي.

د همدې اړتیا او مسؤلیت له مخې، د وردګ پوهنتون د ښوونه او روزنه پوهنځي اداره دا د روغتیا ساتنې کړنلاره ترتیب او منظوروي، څو د استادانو، محصلانو، اداري او خدماتي کارکوونکو لپاره د حفظ الصحې، وقایوي تدابیرو، بیړنیو حالتونو مدیریت او روغتیایي پوهاوي په برخه کې واضح اصول، شرایط او مسؤلیتونه تعریف شي.

دا کړنلاره د وقایوي روغتیا، چاپېریالي حفظ الصحې، مسلکي خوندیتوب او اداري همغږۍ پر بنسټ جوړه شوې ده او موخه یې دا ده چې په پوهنځي کې د روغتیا ساتنې فرهنګ بنسټیز او دوامدار شي، مسؤلیتونه روښانه شي، او د سالم، خوندي او معیاري تحصیلي چاپېریال زمینه برابره شي.

## ۲. دروغتیا ساتنې دکړنلارې جوړښت

دا کړنلاره د:

۱: د لوړو زده کړو وزارت د مقرراتو
۲: د عامې روغتیا د پالیسیو پر اساس
۳: او دوردگ پوهنتون داخلي اصولو

پر بنسټ ترتیب شوې ده.

## ۳. دروغتیا ساتنې دکړنلارې موخه

۱. د سالم، خوندي او صحي تحصیلي چاپېریال رامنځته کول.
۲. د ساري او غیر ساري ناروغیو مخنیوی.
۳. د شخصي او چاپېریالي حفظ الصحې ترویج.
۴. د بیړنیو روغتیایي حالاتو لپاره چمتووالی.

## ۴. درغتیا ساتنې دکړنلارې د تطبیق ساحه

دا کړنلاره په لاندې اشخاصو تطبیقېږي:

۱. ښوونې او روزنې پوهنځی استادان
۲. ښوونې او روزنې پوهنځی محصلان
۳. ښوونې او روزنې پوهنځی اداري کارکوونکي
۴. ښوونې او روزنې پوهنځي خدماتي کارکوونکي

## ۵. دښوونې او روزنې پوهنځی دروغتیایی کړنلارې د اصطلاحاتو تعریفونه

**۱. حفظ الصحه :**د شخصي او چاپېریالي پاکوالي اصول.

**۲. بیړنی حالت :**هغه روغتیایي یا طبیعي پېښه چې عاجل اقدام ته اړتیا ولري.

**۳. روغتیایي کمېټه :**هغه ټاکل شوې ډله چې د کړنلارې د تطبیق نظارت کوي.

## ٦. دښوونې او روزنې پوهنځی دروغتیایی کړنلارې شرایط

۱. ټول غړي مکلف دي د شخصي حفظ الصحې اصول مراعات کړي.

۲. په ښوونه او روزنه پوهنځي کې سګرټ څکول منع دي.

۳. د کثافاتو غورځول یوازې په ټاکل شوو ځایونو کې جواز لري

۴. د ناروغۍ په صورت کې باید دپوهنځي ریاست او ډیپارتمن آمریت ته خبر ورکړل شي.

۵. د روغتیا اړوند لارښوونو څخه سرغړونه اداري تخلف ګڼل کېږي.

## ۷. دښوونې او روزنې پوهنځي داستادانو ،محصلانو ،اداری کارمندانو او خدماتی کارمندانو شرایط

### ۱,۷ د استادانو مسؤلیتونه

۱:د ټولګیو د پاکوالي څارنه.

۲: د روغتیایي پوهاوي په پروګرامونو کې ګډون.

۳:د ناروغو محصلانو راپور ورکولدیپارتمنت او دپوهنځي ریاست ته.

### ۲,۷ د محصلانو مسؤلیتونه

۱: منظم شخصي نظافت.

۲:د ټولګي او پوهنځي پاک ساتل.

۳:د ناروغۍ په وخت کې له نورو سره نږدې تماس کمول.

### ۳,۷ د اداري کارکوونکو مسؤلیتونه

۱:سالم کاري چاپېریال یقیني کول.

۲:د روغتیایي اسانتیاوو برابرول.

۳: د میاشتني نظارت راپور ترتیبول.

### ۴,۷ د خدماتي کارکوونکو مسؤلیتونه

۱: ورځنی پاکوالی او ضدعفوني.

۲:د خوندیتوب اړوند لوازمو کارول.

۳:د کثافاتو منظم انتقال.

## ۸. د چاپېریال پاک ساتل

۱ .ټولګي او دفترونه باید هره ورځ پاک شي.

۲ .تشنابونه باید په منظم ډول ضدعفوني شي.

۳ .د څښاک پاکې اوبه باید برابرې شي.

۴ .د هوا مناسب جریان او رڼا یقیني شي.

## ۹. بیړني تدابیر

۱. د لومړنۍ مرستې بکس باید موجود وي.

۲. د بیړني تماس شمېره باید په ښکاره ځای کې نصب شي.

۳. د اورلګېدنې او زلزلو لپاره تمریني پروګرام ترسره شي.

## ۱۰. د روغتیا کمېټه

د پوهنځي اداره به ۳ – ۵ کسیزه کمېټه ټاکي چې:

۱. د کړنلارې د تطبیق څارنه وکړي.

۲. میاشتنی راپور ترتیب کړي.

۳. ستونزې تشخیص او حل لارې وړاندیز کړي.

## ۱۱. سرغړونې

هغه کسان چې د دې کړنلارې مواد نقض کړي، د وردګ پوهنتون د انضباطي پالیسۍ له مخې به ورسره چلند کېږي.

## ۱۲. تعدیل او بیا کتنه

دا کړنلاره د هر کال په پای کې داړتیا په صورت کې تعدیل کېدای شي ..

## ۱۳. د تطبیق نېټه

دا کړنلاره د ښوونې او روزنې پوهنځي د علمي شورا له تصویب وروسته دتطبیق وړ ګڼل کېږي.

پورته دروغتیا دساتنې کړنلاره دښوونې او روزنې پوهنځی دعلمي شورا ( ) ګڼه پروتول او / /

نیتې غونډې کې تربحث وروسته دحاضرو ګډونوالو درایو په اتفاق تایید ده .

پوهندوی عبدالقدیر جلالي

دښوونې او روزنې پوهنځي ریس